# ثوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، نو ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ او زما بنده ما ته په بل هيڅ شي دومره ندی رانږدې شوی لکه څومره چې د هغه څه په کولو سره رانږدې کيږي چې ما پرې فرض کړي دي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ اللَّهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ، وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ، وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ المُؤْمِنِ، يَكْرَهُ المَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ». « بيشکه الله تعالی فرمايلي دي: ثوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، نو ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ او زما بنده ما ته په بل هيڅ شي دومره ندی رانږدې شوی لکه څومره چې د هغه څه په کولو سره رانږدې کيږي چې ما پرې فرض کړي دي او ماته زما بنده تر هغه د نوافلو په کولو سره رانږدې کيږي چې زه له هغه سره مينه ولرم، نو کله چې ورسره مينه وکړم: زه د هغه د بدن د غړو په کارولو کې توفيق ورکوم، داسې چې حق به اوري، حق به ګوري، لاسونه به په روا کړنو کې کاروي او په پښو به ښو ځايونو ته د تللو توفيق ورکوم، او که زما څخه سوال وکړي نو خامخا به يې ورکړم او که پر ما يې پناه وغوښته نو پناه به ورکړم او هېڅکله په يو کار کې متردد شوی نه يم چې کول يې غواړم «پرته لدې چې کله د مؤمن روح اخلم، نو هغه مرګ بد ګڼي او زه د هغه خفه کول بد ګڼم.

[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په قدسي حديث کې خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمايلي: ثوک چې زما اولياوو ته ضرر ورسوي، غوسه يې کړي او يا ترې کرکه وکړي، نو هغه ته مې خبرداری ورکړی او له هغه سره مې دښمني اعلان کړې ده. او ولي: هغه مومن دی چې تقوا لري او مومن چې په څومره اندازه ايمان او تقوا لري، په همغومره اندازه يې د الله جل جلاله سره د ولايت برخه ډېره وي. او مسلمان خپل رب ته په بل کار دومره نه ندی نږدې شوی، څومره چې په هغو کارونو نږدې کيږي چې هغه پرې فرض او واجب ګرځولي لکه: د طاعتونو تر سره کول او د محرماتو پرېښودل، او تر هغه يو مسلمان خپل رب ته له فرضو سره د نوافلو په کولو نږدې کيږي تر دې چې د الله جل جلاله محبت ترلاسه کړي. نو کله چې الله تعالى ورسره مينه وکړي، الله تعالى به د دې څلورو غړو د سمې کارونې توفيق ورکړي: په اورېدلو کې به توفيق ورکړي، نو هغه څه به اوري چې الله پرې راضي کيږی. په لېدلو کې به توفيق ورکړي، نو يوازې هغه څه ته به ګوري چې الله يې خوښوي او پرې راضي کيږي. د لاسونو په کارولو کې به توفيق ورکړي، نو په لاسونو به يوازې هغه کار کوي چې الله پرې راضي کيږي. او د پښو په کارولو کې به توفيق ورکړي، نو يوازې هغه ځای ته به ځي چې الله يې خوښوي او يوازې هغه ځای ته به ځه کوي چې خير پکې وي. لدې سره که له الله جل جلاله څخه د کوم شي سوال وکړي، نو الله به يې غوښتنه ومني. او پدې سره به هغه ثوک شي چې دعا يې قبليږي، او که په الله جل جلاله پناه وغواړي او هغه ته د ملاتړ په موخه پنا يوسي، نو الله پاک به پناه ورکړي او د هغه څه په وړاندې به يې ملاتړ وکړي چې وېره ترې لري. بيا الله جل جلاله وفرمايل: او د هيڅ يو کار په کولو کې چې زه يې کول غواړم دومره متردد شوی نه يم څومره چې د مهربان له مخې د مومن په روح اخيستلو کې متردد شوی يم، ځکه چې هغه مرګ د هغه درد له امله بد ګڼي چې پکې دی او الله هر هغه څه نه خوښوي چې مومن دردوي.